# کهسار باقي افغان باقي

دریمه برخه

**څلان مومند**

سیمینار سر ته ورسېدو، په سبا د پاکستان نه راغلي اکثر خلق واپس لاړل چې پکښې محترم افراسیاب خټک او د هغوي کور واله، د عوامي نېشنل پارټۍ د قومي اسمبلۍ غړې بشرٰي ګوهر او سابقه وفاقي وزیر مملکت انیسه زېب طاهرخېلي هم شامله وه چې د افغانستان، هندوستان او پاکستان ترمنځ په یو ټرائیلاګ کښې د شرکت کولو دپاره راغلې وه. دې دوران کښې ډاکټر مروت صاحب چرته نه د یو ګاډي بندوبست وکړو نو زۀ او هغه د کابل په سېل ووتو. په لاره کښې هم هغه ګنه ګونه او دُوړې وې، نمر کښې تودوښه نۀ وه. کابل کښې عموماً باران نۀ کېږي او چې وشي نو د دې تاریخي ښار حسن نور هم زیات شي. دلته کالوسر یخني وي او چې کله ګرمي شروع شي نو هم موسم داسې وي چې بنده ئې برداشت کولے شي. دغه وجه ده چې په ټول کابل ښار کښې به چرته هم د چت پکے نۀ وینې. اوس اوس چې دې جنګونو کښې کوم بې دریغه بارود استعمال شوي دي د هغې له وجې موسم کښې لږ بدلون راغلے دے ځکه نو کله کله ئې موسم لږ ګرم شي. ائر کنډیشنز خو دلته ډېر وروستو راغلي دي. بازار کښې ګرځېدو نو راته انکشاف وشو چې دلته د موجودو څیزونو نرخونه د بنده بلډ پرېشر زیاتوي. یوه عام زنانه جوړه چې معمولي د لاس کار پرې شوے وۀ په پنځلس زره پاکستانو وه او دا دې هم واضحه وي چې دا د ټولو نه ارزانه جوړه وه. زمونږ معاشي حال مونږ له بیا بیا د خپلې موجودګۍ احساس راکولو.

زۀ خپله یو عام شان صحافي یم هلته خو ډاکټر فضل الرحیم مروت چې د ټېکسټ بک بورډ چئیرمېن دے او په ۲۱ ګرېډ کښې دے (یعنې چیف سېکرټري هم جوړېدے شي) د دې قیمتونو نه سر ټکولو. نو مونږ د یوې خاموش او غېر اعلان شوې معاهدې په رڼا کښې د یو بل د پېروۍ کولو فېصله وکړه او وچه مېوه مو په وچ زور واخسته. وچ زور مې ځکه ووې چې څۀ نا څۀ خو به مو ضرور اخستل کنه. هر څو کۀ مونږ د سمندر نه پورې غاړه نۀ وو راغلي خو په واپسۍ کښې د افغانستان د تګ ثبوت ورکول خو ضروري وو کنه. بله خبره دا وه چې دلته د وچې مېوې قیمتونه هم د پاکستان په مقابله کښې ډېر اوچت وو. مونږ له خندا ځکه راتله چې دا وړومبے ځل نۀ وۀ چې مونږ صرف په وچه مېوه اخستو قناعت کړے وۀ. یو ځل مخکښې هم راسره دا ټوقه شوې وه چې کېفیت ئې اوس هم راته یاد دے خو خالي لاسونه نۀ شو تللے. هسې هم څوک چې د افغانستان نه خالي لاسونه راځي نو په هغۀ پسې بیا په نظمونو کښې بدرد وئیلے شي.

د شپې د روټۍ خوړلو پـه وخت د کابـل پـه انټرکانټي نينټـل هوټـل کښې د سوئمنګ پـول پـه غاړه مېزونه لګولي شي. سازنده هم موجود وي چې صرف وسطي ايشيائي راګونـه نـۀ چېړي بلکې د پښتو، دري او د افغانستان د نورو وړو لويو ژبو سندرې هم وائي خو پوشاک ئې ښځي د پښتنو وي. د سيمينار مندوبين تقريباً ټول واپس شوي وو. په پاکستاني وفد کښې ډاکټر فضل الرحيم مروت او د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ سينيټر اکرم شاه او راقم الحروف پاتې وو. د افغانستان وزارت خارجه مونږ افغانستان تـه بللي وو او خپله وظيفه ئې تر سره کړې وه. اجمل جان چې د کابل پـه ائرپورټ زمونږ استقبال کړے وۀ راتـه وئيلي وو چې دلتـه هوټل کښې هر يو څيز موجود دے چې څۀ مو پکار وي نو هيڅ د تامل نه به کار نۀ اخلئ. نو مونږ د هغۀ په دې نصيحت پوره پوره عمل وکړو چې نقصانات ئې بيا وروستو ښکاره شو. په دې حقله به هم خبره کوم. د شپې چې د روټۍ وخت شو نو ډاکټر مروت صاحب ووې چې په هندوستان کښې د افغانستان اتاشي ډاکټر رشيد صاحب به هم مونږ سره وي.

ډاکټر رشيد صاحب يو ښۀ ليکونکے دے. د افغانستان کلچر اتاشي دے خو کار شايد د سفير نه هم زيات کوي. دوي نۀ صرف دا چې په هندوستان کښې پښتنو لـه خاص ډاډ او ملاتړ ورکړے دے بلکې د تحقيق په ميدان کښې ئې هم ډېر کار کړے دے. روښاني تحريک سره ډېره دلچسپي لري او د پير روښان د جانشين او د پښتو د اولين شاعر ملا ارزاني قبر هم پـه هندوستان کښې دوي دريافت کړے دے. کېدے شي دې باره کښې زمونږ ډاکټر يار محمد مغموم ته چا چې په روښاني تحريک پي ايچ ډي کړې ده معلومات وي يا شايد چې پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي ته پته وي چا چې په ملا ارزاني پي ايچ ډي کړې ده. د روټۍ په وخت ډاکټر رشيد صاحب ما او ډاکټر مروت صاحب هم په دې موضوعاتو خبرې کولې چې دې دوران کښې مونږ زلمے هېوادمل وليدو چې په يو خاص رفتار د سوئمنګ پول د دوېم اړخ اخري کرسو ته ئې د ځان رسولو کوشش کولو. د هغوي په خيال شايد چې مونږ وروستو کښېناستونکو کښې وو. زما تر حده خو دا خبره ټيک وه خو ډاکټر مروت او ډاکټر رشيد صاحب په هېڅ صورت کښې داسې نۀ ښکارېدل چې شاته بنچونو باندې دې کښېني، ډاکټر مروت صاحب خو مونږ هر ځائے په وړومبي صف کښې وليدو. ما چې څنګه هېوادمل صاحب ولېدو نو زۀ پاڅېدم. ماته پته وه چې هغه مونږ سره ملاوېدو له راغلے وۀ ځکه چې هغوي ماسره وعده کړې وه. ډېر په مينه راسره ملاو شو خالصه په افغاني طريقه چې مخ سره د بنده مخ وجنګوي. هېواد مل صاحب وړومبے صرف يو ادبي شخصيت وۀ خو اوس هغه په سياسي لحاظ هم څۀ کم اهميت نۀ لري. بلکې حقيقت دا دے چې د افغان صدر حامد کرزي صاحب د مشير خاص په طور چې هېوادمل صاحب په صدارتي محل کښې ناست وي نو يو عام مشير نه بلکې يو متبحر عالم په شکل کښې وي. په پښتو ادب کښې د تحقيق په حواله دوي ډېر لوئے نوم او مقام لري، بېشمېره کتابونه ئې ليکلي دي او د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ او ودې دپاره تشې خبرې نۀ کوي بلکې هر وخت د هغې دپاره په حرکت کښې هم وي او يو لاثاني جوش او درد هم لري. مونږ چې

کله هم کابل ته بللي شو نو هغې کښې هم د دې شخصیت لاس وي. دوي د ټولو وزارتونو سره برابر په رابطه کښې وي او د هر یو وزارت مشر ته د ژبې او ادب او سیاست د پرمختګ د پاره د منصوبو شروع کولو تلقین کوي. د قد نه ډېر لوړ نۀ دے خو قامت ډېر اوږد لري. دا وخت په کابل کښې د پښتنو د پاره لویه اسره ده. پوشاک ئې ښځې انګرېزي وي خو د سر نه تر پښو پورې د افغانیت نه ډک دے. ډېر ښۀ مزاح کوي خپله هم خاندي او نور هم خندوي. د وطن پرستۍ جذبه په کښې دومره ډېره ده چې کۀ د کابل نه په میلونو لرې د افغانستان په یو ځائے کښې څۀ بې ضابطګي وشي او دۀ ته اطلاع راورسي یا ئې څۀ شک پېدا شي نو بې قراره شي او د هغې د اصلاح د پاره هغه وخت روان شي. دا څۀ معمولي خبره نۀ ده. په قومونو کښې د داسې خلقو شمېر ډېر لږ وي. د جمهور رئیس حامد کرزي دومره نزدے ملګرے دے چې د کابینې بعضې وزیران هم د دۀ سره تعلقات ساتل اعزاز ګڼي. داسې وزیران به هم ډېر وي چې د کابینې د اجلاسونو نه سېوا به ورته حامد کرزي صاحب سره د لیدو موقع په لاس نۀ ورځي خو د هېوادمل صاحب د اولس مشر سره روزانه ملاوېدل معمول دے. دې د هغۀ یو قسم د کچن کېبینټ غړے دے. د شاعرانو او ادیبانو یو لوئے شمېر مونږ ولیدو چې د داسې منصوبو حاصلولو نه پس پکښې یوه قابل مذمت تبدیلي راشي خو هېوادمل صاحب د خپل طبیعت نه مجبوره دے. د حد درجې عوامي سړے دے. په افغانستان کښې چرته چې د سلامتۍ مسئلو عالمي توجه حاصله کړې ده، هېواد مل صاحب واحد عالي رتبه حکومتي شخصیت دے چې په هیڅ قسمه حصار کښې نۀ اوسي نۀ څۀ پروټوکول او نۀ سکواډ وغېره حالانکه کۀ غوښتل ئې نو امریکنیان ئې په خپل خدمت لګولي شو. په وړاندې تګ کوي خو ماضي ئې هم د ځان سره ملګرې کړې ده له دې وجې نه تراوسه پورې په کابل یونیورسټۍ کښې لیکچر ورکوي او درس او تدریس ئې پرېښے نۀ دے. د افغانستان د خانه جنګۍ په دوران کښې پېښور کښې وۀ. دې د پښتو د یو نامتو لیکونکي صدیق روهي صاحب زوم دے او د مشرقي افغانستان د لغمان د ولایت سره تعلق لري.

هېوادمل صاحب تر ډېره وخته مونږ سره ناست وۀ. مونږ هغوي ته هغه ټولې خبرې بیان کړې کومې چې مونږ په دې دوره کښې محسوس کړې وې. مونږ سره دا احساس وۀ چې دا سیمینار د دوي محکمې یا ریاست جمهوري منعقد کړے نۀ وۀ. خو زمونږ په زړۀ کښې بیا بیا راتلل چې کاش دا سیمینار دوي منعقد کړے وے نو څومره به ښه وه. هېوادمل صاحب چې څومره سیمینارونه هم منعقد کړي دي په هغې کښې نظم وضبط مثالي وۀ او د مېلمه نوازۍ د ټولو باریکو نکاتو هم خیال ساتلے شوے وۀ. هغوي سره دا مجلس دومره اوږد شو چې مېلمانۀ، سازنده او کارکونکي ټول لاړل. صرف یو مونږ او یو زمونږ مېز پاتې وۀ باقي هر طرف ته خاموشي خوره شوې وه. مونږ هم د رخصت اخستو اراده وکړه. نو هېواد مل صاحب مونږ یو طرف ته کړو او راته ئې ووې چې سبا غرمه روټۍ مۀ خورئ؟ ما وې ولې؟ وې وئیل چې رئیس جمهور ستاسو د پاره د روټۍ بندوبست کړے دے.